# پهٔ نیکو کښې حصه شامله کړئ!

(09-October-2025)



هفته وار د سُنّتونکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتونک بیان

(For Islamic Brothers)

پۀ 9 اکتوبر، کال 2025ء (مطابق: 15 ربیع الثاني ، کال 1447ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# پۀ نیکو کښې حصه شامله کړئ!

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د دِین یو اهم اُصُول
- پۀ محمود غزنوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندې کرم وشو
- د اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بنۀ اوبۀ
- د یو پۀ بدله کښې 20 لاکهه

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عَوف رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چي: يوه ورځ د نبيانو سردار، د مدينے تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دولت خانې (يعني د كور مبارک) نه بهر تشريف راوړو او د يو باغ طرف ته روان شو، حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عوف رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې اوليدو نو وريسې وروستو وروستو روان شو، رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باغ ته لاړو، د قبلې طرف ته يې مخ كړو او سر پۀ سجده شو، حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عوف رَضِیَ اللہُ عَنْہُ لرې ولاړ وو او كتل يې، فرمائي: د بے وَسو مددګار، سرکارِ عالي وقار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډيره اوږده سجده اوكړه، تر دې پورې چې زما سره ويره شوه چې هسې نۀ د سجدې پۀ حالت كښې **الله** پاک [د نبي كريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم] رُوح مبارک قبض كړے نۀ وي، ځنګه مې دا خيال راغلو نو ور نخكښې شوم ، زما د قدمونو آواز يې چې واوريدو نو اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سر مبارک د سجدې نه راوچت كړو، پوښتنه يې اوكړه: څوک يې؟ ما عرض اوكړو: حُضور! عَبدُ الرَّحمان. اوئې فرمائيل: څۀ كار دې دے؟ ما عرض اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! تاسو دومره اوږده سجده اوكړه، چې زما سره ويره شوه چې هسې نۀ **الله** پاک پۀ سجده كښې [ستاسو] رُوح مبارک قبض كړے نۀ وي.

(د عاشقِ زار د محبت نه ډكه خبره چې يې واوريدله نو د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي،

مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوږدې سجدې کولو حِکمت بیان کړو)، اوئې فرمائیل: زما خوا ته جبریلِ امین عَلَيْهِ السَّلَام حاضِر شو او اوئې وئیل: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم الله پاک فرمائي: اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! څوک چې پهٔ تاسو باندې درود لولي، زهٔ به پهٔ هغوئي باندې رحمتونه نازلووم، څوک چې پهٔ تاسو باندې سلام رالیږي، زهٔ به پهٔ هغوئي باندې سلامتیا نازلووم. د دې نعمت د شُکر ادا کولو د پاره ما دومره اوږده سجده اوکړه. (1)

اَللهُ اَکْبَر! اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! غور اوکړئ! ❁ درود به څوک لولي؟ اُمَّتي ❁ رحمت به پهٔ چا باندې نازلیږي؟ پهٔ اُمَّتي باندې ❁ سلام به څوک لیږي؟ اُمَّتي ❁ د الله کریم سلامتیا به پهٔ چا باندې نازلیږي؟ پهٔ اُمَّتي باندې ❁ او سجدهٔ شُکر څوک ادا کوي؟ د اُمَّت غم خوار، شفاعت کولو والا، اُمَّت بخښلو والا، جنَّت ته رسولو والا آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ...! سُبْحٰنَ الله! اندازه اولګوئ! زمونږه د خوږ آقا، د مدینے والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره څومره مینه ده. الله! الله! اُمَّت چې ګناه اوکړي نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شپې پهٔ ژړا ژړا تیروي، چې اُمَّت ته نعمت میلاؤ شي نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شُکر سجدې کوي. د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورور، مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي:

تم کو تو غلاموں سے ہے کچھ ایسی محبت | ہے ترکِ اَدَب! ورنہ کہیں ہم پہ فدا ہو (2)

**وضاحت**: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو د خپلو غلامانو سره دومره محبت دے، چې دا ادب نهٔ دے ګنې چې مونږه به وئیلے چې تاسو پهٔ خپلو غلامانو باندې فدا یې.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...مسندِ اَحْمَد، جلد:1، صفحه:522، حدیث:1686۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:211۔

# د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د **الله** پاک د رضا د پاره به تهول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نیکۍ لار ښودلو والا

روایت دےچې، یو ځل یو صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو، عرض یې وکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته د سورلۍ حاجت دے، راعطا یې کړئ!

خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اوس سورلۍ خو نشته، داسې وکړه چې د فلانکي انصاري خوا له لاړ شه! هغهٔ ته ووایه! هغه به تا له سورلۍ درکړي. هٰغه صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ښودلے شوي انصاري خوا له لاړو، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پیغام یې ورسولو، هغوئې یو اوښ دې صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ له ورکړو. بیا دا د اوښ سره بیا بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو او عرض یې وکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته د سورلۍ د پاره اوښ میلاؤ شوے دے. اوئې فرمائیل: اِنطَلِقْ، فَاِنَّ الدَّالَّ عَلَى الْخَيْرِ كَفَاعِلِهٖ تېک ده! لاړ شه...!! بے شکه د نیکۍ لار ښودلو والا هم د نیکۍ کوونکي پهٔ شان دے.(2)

---

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

2...مسند ابی حنیفہ مع شرح ملا علی قاری، ذکر اسنادہ عن علقمہ بن مرثد، صفحہ:345 ملتقطاً۔

# څهٔ چې هم غواړې حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يې ورکوي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سخي دے، د سخيانو سخي دے، د ټولو نه زيات سخي دے، داسې څه نشته کوم چې د دې پاک دَر نه نهٔ ميلاؤيږي.

کس چیز کی کمی ہے مولیٰ تیری گلی میں | دُنیا تیری گلی میں، عقبیٰ تیری گلی میں

او مولانا حَسَن رضا خان صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه څهٔ ښکلي وئيلي دي:

اُن کے طالِب نے جو چاہا پا لیا | اُن کے سائِل نے جو مانگا مِل گیا[1]

خبره هم دا ده، د دې پاک دَر نه چې څهٔ هم غواړې نو ميلاؤيږي به. ❁ حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ حافظه وغوښتله، حُضور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته حافظه عطا کړله[2] ❁ حضرت ربيعه رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ جنَّت وغوښتو، هغوئي ته يې جنَّت عطا کړو[3] ❁ تر دې پورې چې د غزوه بدر پهٔ موقع باندې يو صحابي رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ توره وغوښته، خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي له ښانګه ورکړه، هُم هٰغه ښانګه توره جوړه شوه. توره نهٔ وه، ښانګه وه خو د هغوئي د معجزې لاس مبارک چې ورسره ولګيدو نو د ښانګې نه توره جوړه شوه.[4]

پوښتنه ذِهن کښې راتلے شي چې د دولت پهٔ دې دَر کښې خو د اِنکار هډو ګنجائش نشته، څوک چې پهٔ زمکه د اوسيدو باوجود جنَّت تقسيمولے شي، د هغوئي نه د سورلۍ د پاره خاروے وغوښتے شو، خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورله سورلۍ ورنکړه، اوئې فرمائيل: لاړ شه او د فلانکي صحابي نه يې واخله...!! اخر پهٔ دې کښې څهٔ حِکمت وو...؟

---

1...ذوقِ نعت، صفحه:34۔

2...بخاری، کتاب العلم، باب حفظِ العلم، صفحه:105، حديث:119 ملخصاً۔

3...مسلم، کتاب الصلاة، باب فضل السجود و الحث عليه، صفحه:184، حديث:489 ملتقطًا۔

4...دلائل النبوة للبيهقي، جلد:3، صفحه:99 ملخصاً۔

یو حِکمت کوم چې پۀ ذِهن کښې راځي، هغه دا چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلو ټولو اُمتیانو سره محبت دے. د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مزاج مبارک هم دا دے چې څوک سوال کوونکے خالي لاسونه نۀ لیږي.

منگتا کا ہاتھ اُٹھتے ہی داتا کی دَین تھی | دُوری قبول و عرض میں بَس ہاتھ بَھر کی ہے (1)

شان یې دا دے چې یو سوال کوونکے هم خالي لاسونه نۀ ځي خو د پاک سیرت د دې انداز نه خو مالداره خلق فیض حاصلولے شي، کوم چې کروړ پتیان دي، ارب پتیان دي، د کومو سره چې د پیسو هیڅ کمے نشته، هغوئي خو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا ادا اختیارولے شي چې کله هم سوالګیرے راشي خالي لاسونه یې اونۀ لیږي، ورکوي یې او لیږي یې. کوم چې غریبانان دي نو هغوئي به دا ادا څنګه اختیاروي. نو خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلو غریبانو اُمتیانو د پاره یوه پاکه ادا اختیار کړه، صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ راغلو، سورلۍ یې وغوښتله، حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سورلۍ ورنکړه، لاره یې ورته وښودله چې لاړ شه او د فلانکي صحابي نه یې واخله، بیا یې وفرمائیل: اِنَّ الدَّالَّ عَلَی الۡخَیۡرِ کَفَاعِلِہٖ **بے شکه د نیکۍ لار ښودونکے هم د نیکۍ کوونکي پۀ شان دے.**

لکه چې غریبانو ته دا سبق ورکولے شي چې اے ھغه خلقو! کوم چې صدقه نشی کولے، اے ھغه خلقو! کوم چې د **الله** پاک پۀ لاره کښې لکونه کروړونه روپۍ نشئ لګولے، نو تاسو وسیله جوړه شئ! د ورکونکو نه تر د اخستونکو پورې یې ورسوئ! ❀ د یو کَس نه یې اخلۍ او تر جوماته پورې یې رسوئ! ❀ د مالدارو نه یې اخلۍ او تر مدرسو پورې یې رسوئ! ستاسو داسې پۀ مینځ کښې وسیله جوړیدل، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلې ادا هم ده او د ثواب ګټلو ذریعه هم ده.

---

1...حدائقِ بخشش، صفحه:228۔

# د دِين يو اهم اُصُول

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پۀ حديثِ پاک کښې چې څۀ اِرشاد شوی، دا اُصُول دي. دا پۀ خپل ذِهن کښې کښينول پکار دي! اِنَّ الدَّالَّ عَلَى الْخَيْرِ كَفَاعِلِه د نيکۍ لار ښودونکے هم د نيکۍ کوونکي پۀ شان دے.

علّامه مُناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې د دې حديثِ پاک پۀ شرح کښې څه فرمائيلي دي د هغې مفهوم دا دے چې: د نيکۍ لار ښودونکي د نيکۍ لاره وښودله، (د مثال پۀ توګه ❀ هغه چا له د نمونځ دعوت ورکړو ❀ چا له يې د تلاوت ترغيب ورکړو ❀ چا له يې د **الله** پاک پۀ لار کښې د خرچ کولو ذِهن جوړ کړو ❀ چا مالداره ګس ته يې ووئيل: فلانکۍ مدرسه ده، هلته ماشومانو ته د حفظ او ناظرې تعليم ورکولے شي ❀ دعوتِ اِسلامي پۀ ټوله دُنيا کښې د نيکۍ دعوت عام کوي، تاسو دې سره مالي مرسته وکړئ. يعنې هغه د نيکۍ دعوت ورکړو) بيا به دوه صورتونه جوړيږي: **(1):** ورومبے صورت خو دا چې مخامخ ګس د نيکۍ دعوت قبول کړو، هغه نمونځونه شروع کړل ❀ تلاوت يې شروع کړو ❀ د **الله** پاک پۀ لاره کښې يې د خرچ کولو د پاره مالي خدمت وکړو، پۀ دې صورت کښې چې کوم د نيکۍ دعوت ورکولو والا دے، د هغۀ به هم هغه همره ثواب کيږي، څومره چې د کار کوونکي کيږي، مثلاً هغه يو لاکھ روپۍ د دِين د خدمت د پاره پيش کړې، هغۀ ته به هم د يو لاکھ روپو د خرچ کولو ثواب ميلاؤ شي **(2):** دويم صورت دا دے چې هغۀ د نيکۍ دعوت ورکړو، مخامخ ګس اونۀ منو، پۀ دې صورت کښې به هغۀ ته د نيکۍ د دعوت ورکولو ثواب بيا هم ميلاؤيږي.[1]

يعنې پۀ يو حالت کښې هم تاوان نشته، نقصان نشته، دا چې کوم د نيکۍ پۀ کار کښې د وسيلې جوړيدو والا ګس دے، د نيکۍ دعوت ورکولو والا خوش قِسمته دے، د دۀ مزې دي، که مخامخ ګس خبره ومنله نو بيا هم ثواب، که اوئې نۀ منله نو بيا هم ثواب دے.

---

1...فيض القدير، جلد:3، صفحه:716، زيرِ حديث:4246 مفصلاً۔

## د موقعې نه فائده اخستل

د اُردو یوه مُحَاوَره ده: **بہتے دریا میں ہاتھ دھونا**. یعنې دریاب بهیږي، هغه خو هسې هم بهیږي، هغه نهٔ منع کیږي، پهٔ بهیدلو بهیدلو کښې چې مونږ هم لاس وینځو نو فائده به مو وشي.

مطلب دا دے چې نیکي ده، هغه خو هسې هم کیږي، خامخا به کیږي، د نیکۍ کار، د دِین کار خامخا کیږي، هډو ودریږي نهٔ. که مونږ پهٔ مینځ کښې وسیله جوړه شو، د نیکۍ دعوت ورکولو والا جوړ شو، ترغیب ورکوونکي جوړ شو، پهٔ دې نیکۍ کښې حصې شاملولو والا جوړ شو، د دې پهٔ برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! مونږ هم د ثواب حقدار جوړ شو. ځکه دا ذِهن جوړول پکار دي چې د نیکۍ کار کیږي نو پهٔ هغې کښې حصه ضرور شامله کړئ.

## پهٔ نیکۍ باندې مددګار جوړ شئ!

**اللّٰه** پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ تَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَ التَّقْوٰى ۪ وَ لَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ ۪ (پاره:6، سورهٔ مائده:2) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او پهٔ نیکۍ او پرهیزګارۍ د یو بل مدد کوئ او پهٔ ګناه او زیاتي کښې د یو بل مدد مهٔ کوئ. |

حضرت سُفیان بن عُیَیْنَه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: پهٔ نیکۍ باندې د مدد مختلف صورتونه دي: (1): تاسو پخپله د نیکۍ کار وکړئ (دا هم پهٔ نیکۍ باندې مدد دے چې ستاسو پهٔ وجه به ډیرو ته د هغه کار کولو ترغیب میلاؤ شي) (2): تاسو د نیکۍ دعوت ورکړئ، دا هم پهٔ نیکۍ باندې مدد دے (3): څوک نیکي کوي، تاسو د هغوئي مددګار جوړ شئ (4): صِرف د نیکۍ لاره ورته وښایئ.[1]

دا ټول پهٔ نیکۍ باندې د مدد کولو صورتونه دي. پهٔ دې کښې که هر یو صورت اختیار

1...حلیة الاولیا، جلد:7، صفحه:334 بتصرف۔

کړئ نو بس پۀ نيکئ باندې به مددګار جوړ شئ. مونږ به پۀ نيکئ باندې مددګار جوړيږو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د ثواب حقدار به جوړيږو.

## بے د کولو به يـې وکړئ

خومره داسې کارونه دي، کوم چې مونږ نشو کولے. د مثال پۀ توګه ❁ تفسير ليکل خومره اهم کار دے، دِيني کتابونه ليکل د ثواب کار دے، څوک چې پۀ اِخلاص سره دِيني کتاب وليکي، تر څو پورې چې هُغه کتاب لوستلے کيږي، د هغې پۀ ذريعه هدايت اخستے کيږي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ليکونکي ته به ثواب ميلاؤيږي. کار خو ډير د فضيلت والا دے خو مونږ پۀ دکان چلولو پوهيږو، د کتاب ليکل راله نۀ راځي ❁ پوره کارخانه قابو کولے شو، پۀ 25 ملکونو کښې خو کاروبار يو ګس سمبالوي، هغه خو کولے شو خو کتاب ليکل راله نۀ راځي، د دې کتاب د ليکلو فضيلت مونږه څنګه حاصل کړو؟ اُصول وښودلے شو: **پۀ نيکئ باندې مددګار جوړ شه! تۀ به هم پۀ ثواب کښې حصه دار شې.** لهذا چې کوم کتابونو ليکلو والا دي، د هغوئي څۀ قِسمه خِدمت وکړئ ❁ پۀ زړۀ کښې مې ډير ارمان دے چې کاش! زما د قرآنِ کريم د حفظ کولو سعادت نصيب شي خو کولے يې نۀ شم . اوس څۀ وکړم ؟ څوک چې حفظ کوونکي دي، د هغوئي مدد وکړئ ❁ زړۀ مو غواړي چې کاش! زما سره پيسه وے، ما د دِين د خدمت د پاره پۀ لکونو کروړونو روپئ خرچ کړے وے خو دومره مال راسره نشته، اوس څۀ وکړم؟ اَلدَّالُّ عَلَى الْخَيْرِ كَفَاعِلِهٖ (د نيکئ لار ښودونکے، د نيکئ کوونکي پۀ شان دے) څوک چې پيسو والا دي، د هغوئي نه پيسې راوخلئ او د دِين پۀ خِدمت کښې يې ولګوئ، مونږ به پۀ مينځ کښې ذريعه جوړه شو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! مونږ به هم د ثواب حقدار شو.

## خپل سامان هغۀ له ورکړه...!!

د **مُسلِم شريف** حديثِ پاک دے: يو ځل يو صحابي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو او عرض يـې وکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زۀ

د **الله** پاک پۀ لار کښې سفر کول غوارم خو اسباب راسره نشته. اوئې فرمائيل: د فلانکي صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خوا له لاړ شه! هغه د **الله** پاک پۀ لاره کښې د سفر ټولې تياريانې کړې وې خو هغه بيمار شو. هغۀ ته ووايه چې رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: خپل ټول سامان دۀ له ورکړه. نو هغه صحابي لاړو، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پيغام يې ورته ورسولو نو هغه پۀ خوشحالۍ خوشحالۍ خپل ټول د سفر سامان هغه صحابي له ورکړو.(1)

اوس وګورئ چې هغوئي تياري کړې دہ، د **الله** پاک پۀ لاره کښې سفر نشي کولے. بيمار شو. خپل د سفر سامان يې بل له ورکړو. اوس به سفر هغه کوي، ثواب به د دوئي هم کيږي، د هغوئي به هم کيږي.

سُبْحٰنَ الله! دا هم پۀ نيکۍ باندې د مدد کولو فضيلت دے...!! مونږ له پکار دي چې يو نيکي مونږ پخپله کوو او که نۀ يې کوو. مونږ د نورو پۀ هغه نيکۍ باندې مدد ضرور وکړو. اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! مونږ به هم د ثواب حقدار شو.

## پۀ نيکو کښې حصه شامله کړئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** دا خيز زمونږ پۀ مزاج کښې شامليدل پکار دي چې د نيکو حِرص وي، چې دا نيکي هم وکړم، هغه نيکي هم وکړم، څۀ داسې نيکي رانه پاتې نۀ شي کومه چې زما پۀ اعمال نامه کښې موجود نۀ وي، مونږ له دا حِرص پکار دے.

بيا به مسئله راځي چې ټولې نيکۍ زۀ څنګ کولے شم؟ د دې حل به دا وي چې نيکۍ خو د مخکښې نه کيږي، چې مونږ پۀ دې کښې خپله حصه شامله کړو. کومه حصه چې مونږ شاملولے شو، هغه پکښې شامله کړو. **الله** پاک چې کوم صلاحيت راکړے دے، هغه د نيکۍ پۀ کار کښې شامل کړو ❀ **الله** پاک پيسه راکړې دہ، د نيکۍ د کار د پاره

1...مسلم، كتاب الامارة، باب فضل اعانة الغازى فى سبيل الله...الخ، صفحه:756، حديث:1894 بتغير۔

پيسه ورکړو ❁ **الله** پاک راته ښهٔ سوچ عطا کړے دے، د نيکۍ د کارونو د پاره مشوره ورانديې کړو ❁ د وئيلو صلاحيت خو د ټولو نصيب دے، که نور څهٔ نهٔ شو کولے نو د دې نيکۍ ترغيب ورکړو. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ثواب به مو کيږي.

**پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** يو غَشے کوم چې د **الله** پاک پهٔ لاره کښې ويشتے شي، د هغې پهٔ وجه درې کسان بخښلے کيږي: (1): د هٰغه غَشي جوړونکے (2): هٰغه غَشے بَل ته رسوونکے (3): هٰغه غَشے وِيشتونکے.

غَشے يو ويشتے شوے دے، ويشتونکے يې هم يو دے خو بخښلے شوي درې کسان دي. ولې؟ ځکه چې نورو پهٔ دې کښې خپله حصه شامله کړې ده.(1)

## پهٔ محمودِ غزنوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه باندې کرم وشو

**پهٔ کتابونو کښې ليکلے شوي دي:** سلطان محمودِ غزنوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه څوک چې د خپل وخت ډير لوئي سلطان او عاشقِ رسول تير شوے دے. د هغوئي پهٔ زړهٔ کښې به وسوسې راتللې (1): وړومبۍ وسوسه دا وه چې دا حديثِ پاک: اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ (يعنې عالمان د نبيانو وارثان دي). دا واقعي ده چې رښتيا حديث دے که نه چا د ځان نه جوړ کړے دے. (2): دويمه وسوسه دا وه چې آيا زما د پلار نوم سُبُکتِگين دے که زهٔ د بَل چا ځوي يم (3): دريمه خبره دا وه چې هغه ځان خبرول غوښتل چې آيا زهٔ به بخښلے کيږم که نهٔ.

يوه شپه سلطان محمود غزنوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د خپل لښکر سره چرته روان وو، يو خادِمِ شمع دان (يعنې د رڼا سامان) اخستے وو او مخکښې مخکښې ترينه روان وو.

رڼا چې يې وليدله نو يو کس کتاب پهٔ لاس د خپل کور نه بهر راغلو او د شمع دان پهٔ رڼا کښې يې کتاب لوستل شروع کړو. سلطان پهٔ زړهٔ کښې سوچ وکړو چې کيدے شي دا څوک عالِمِ دِين وي او د هغوئي دعزت د وجې نه يې لښکر ودرولو چې هغه پهٔ

---

1...ابو داود، کتاب الجهاد، باب في الرمی، صفحه:402، حديث:2513۔

اطمينان سره د شمع دان پۀ رڼا کښې کتاب ولولي. د مطالعې د ختميدو نه پس چې کله هٔغه صاحب خپل کور ته تشريف يوړو نو سلطان د خپل لښکر سره د هٔغه ځائے نه رخصت شو.

هُم پۀ دغه شپه يــې بخت رابيدار شو. د شپې چې کله اودۀ شو نو بخت يــې رابيدار شو، پۀ خوب کښې ورته د دوارو جهانوتاجدار، مکي مَدَني سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو او قربان شم! **محبوبِ** کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صرف يوه جمله ووئيله، اوئې فرمائيل: **اے د ناصِرُ الدِّين سَبُکتِگِين ځويه! زما د وارث (يعني د عالِمِ دِين) د خِدمت پۀ وجه اللّٰه پاک تۀ بخښلے يـې.** (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زما د خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم...!! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د **اللّٰه** پاک پۀ فضل باندې زمونږه خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژوندے هم دے، د خپل اُمَّت د حالاتو بلکې د زړۀ د خيالونو نه خبر هم دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا هم معلومه وه چې **محمود** غزنوي د عِلمِ دِين خدمت کړے دے او دا ورته هم معلومه وه چې د **محمود** غزنوي پۀ زړۀ کښې د دريو خبرو نه د ځان خبرولو طلب دے، نو هُم پۀ يوه مبارکه جمله کښې يــې درې واړه خبرې حل کړې، **(1):** اوئې فرمائيل: اے د سَبُکتِگِين ځويه! د دې نه سلطان ته پته ولګيده چې زۀ واقعي چې د سَبُکتِگِين ځوي يم. **(2):** بيا يــې وفرمائيل: تا زما د وارث خِدمت وکړو. د دې نه هغوئي ته د رښتوني عقيدې د عالمانو پته ولګيده. **(3):** بيا يــې وفرمائيل: **اللّٰه** پاک تۀ بخښلے يــې د دې نه هغوئي ته معلومه شوه چې هغه بخښلے شوے دے.

اُمّت کے حال سے وہ آگاہ ہر گھڑی ہیں | خوابوں میں آ رہے ہیں، بگڑی بنا رہے ہیں

سُبْحٰنَ الله! چې کوم خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوب کښې تشريف راوړي او

---

1...قلادة النحر فی وفیات اعیان الدہر، جلد:3، صفحه:358 بتصرف۔

هم داسې بې مثاله کلام فرمائي نو بیا به د هغوئي د کلامِ ذيشان څومره شان وي...!! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي:

میں نثار تیرے کلام پر ملی یُوں تو کس کو زباں نہیں
وہ سخن ہے جس میں سخن نہ ہو، وہ بیاں ہے جس کا بیاں نہیں(1)

**وضاحت:** يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د ژبو والا، قادر الکلام خو ډير دي او د هغوئي پهٔ کلام اعتراض کوونکي هم ډير دي، خو زهٔ ستاسو د کلام، ستاسو د بيان نه قربان شم، پهٔ دې کلام باندې نهٔ څهٔ اعتراض کيدے شي، او بيان خو داسې دے د کوم چې هيڅ جواب نشته.

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پهٔ دې واقعه باندې غور وکړئ! سلطان محمود غزنوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه څهٔ کړي وو؟ صرف د لږ ساعت د پاره يې عالِمِ دِين ته رڼا کړې وه، هُغه عالِم صاحب کوم چې د نيکۍ کار کولو، پهٔ هغې کښې يې بس لږه شان حصه شامله کړه، د دې پهٔ برکت خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ هغوئي باندې کرم وکړو، خپل ديدار يې ورعطا کړو او د بخښنې زيرے يې هم ورکړو.

مونږ له هم عادت جوړول پکار دي، نيکي خو هغه ده کومه چې کيږي او هم خامخا به کيږي. که مونږ پکښې هم خپله حصه شامله کړو نو فائده به مو وشي.

## د تيلي تهون ترغيب

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي پهٔ ټوله دُنيا کښې د نيکۍ د دعوت پهٔ عام کولو کښې مصروف دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ د کنزُ الـمدارس بورډ پهٔ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❁ تقريباً 20 زره 235 جامعات او مدارسُ المَدينه د هلکانو او جينکو (Boys & Girls) د پاره قائم دي، پهٔ کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم

1... حدائق بخشش، صفحه:107۔

کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات ***(Specialization)***، فرض علوم کورسز کولے شي ❁ د جامعات او مدارسُ المَدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره څه کم يا زياته 5 لاکهه 65 زره 695 ده ❁ د زيات عمر اِسلامي وروڼو او خوئيندو ته د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره پهٔ زرګونو مدارس المَدينه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د لوستونکو اِسلامي وروڼو او خوئيندو شميره پهٔ لکونو کښې ده ❁ د فيضان آن لائن اکيډمۍ پهٔ ذريعه تقريباً 27 زره طالبِ علمان ديني تعليم حاصلوي او د 60 زرو نه زياتو طالبِ علمانو مختلف کورسونه مکمل کړي دي ❁ اوسه پورې تقريباً 21 دار الافتاء اهلسنت جوړ کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د شرعي رهنمايو شميره د مياشتې اوسطاً 20 زره ده ❁ د الـمدينةُ العلميه ***(Islamic Research Center)*** پهٔ ذريعه پهٔ ديني لټريچر باندې تحقيقي کار کيږي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې شعبے لاندې اوسه پورې پهٔ 2045 کتابونو او رسالو باندې کار شوے دے ❁ پهٔ سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب ***(YouTube)***، فيس بُک ***(Facebook)***، انسټاګرام ***(Instagram)*** وغيره باندې موجود اکاؤنټس، پهٔ کومو باندې چې تقريباً 60.43 ملينه (***Million***) يعنې 6 کروړه 43 لاکهه فالورز (***Followers***) دي ❁ د مَدَني چينل، اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چينل، د مشرانو د پاره مَدَني چينل او د عربۍ د ويب چينل پهٔ ذريعه د دِين اِسلام خدمت کولے شي ❁ د آئي ټي شعبے د طرف نه اوسه پورې 35 موبائل ايپلي کيشن او 44 اِسلامک ويب سائټس جوړ کړے شوي دي ❁ پهٔ تيرو 12 مياشتو کښې تقريباً 9 لاکهه 60 زره اِسلامي وروڼو پهٔ قافله کښې سفر وکړو ❁ د شعبه کورسز د لاندې اوسه پورې تقريباً 92 زره 455 کورسونه شوي دي او د 19 لاکهه نه زياتو کسانو پهٔ دې کورسونو کښې شرکت کړے دے ❁ د اسلامي وروڼو او اسلامي خويندو پهٔ هفته وارو اِجتماعاتو کښې د شرکت کوونکو شميره اوسطاً 6 لاکهه ده ❁ ټرانسليشن ډيپارټمنټ په 45 مختلفو ژبو کښې د کتابونو ترجَمې کوي، تر اوسه پورې د 8 زره کتابونو او رسالو ترجمه شوې ده ❁ د خُدام الـمساجد او

الــمدارس المَدینه لاندې تقریباً 7 زره 243 جوماتونه جوړ کړے شوي دي.

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! وګورئ! پۀ مونږ کښې څوک هم دومره کارونه یواځې نشي کولے، ظاهره ده چې پۀ شریکه کیدے شي. چا له **اللّٰه** پاک مال ورکړے دے، هغه مال لګوي، د چا سره وخت دے، هغه وخت ورکوي، چا ته پۀ ټیکنالوجی کښې پوهه تر لاسه ده، هغه خپله پوهه پیش کوي، داسې پۀ شریکه پۀ ټوله دُنیا کښې د دِین کار کیږي. مونږ له پکار دي چې مونږ پۀ دې کښې خپله حصه شامله کړو.

ډیره ښه موقع ده، پۀ 12 اکتوبر کال 2025 اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیم! ټیلي ټُهون کیږي، د دعوتِ اِسلامي د ټولو جائز، دِیني اِصلاحي، د خیر ښیګړې، روحاني، خیر خواهۍ او د امدن زیاتولو پۀ جائز او محفوظ کارونو کښې د مدد د پاره به د یونټس پۀ شکل کښې عطیات جمع کولے شي. یو یونټ 10 زره پاکستانی روپۍ دي. که یو یونټ ورکولے شی نو یو ورکړئ! که 50 ورکولے شی نو 50 ورکړئ! که 1200 ورکولے شی نو 1200 ورکړئ! که نیم ورکولے شی نو نیم ورکړئ! که هیڅ نۀ شی ورکولے نو ستاسو پۀ کورنۍ، پۀ محله کښې، پۀ دوستانو خپلوانو، پیژندګلو کښې چې څوک ورکولے شي، مالداره دي، هغوئي له ترغیب ورکړئ! د هغوئي نه یونټ جمع کړئ! پۀ څۀ نا څۀ لحاظ سره پۀ دې نیک کار کښې چې زمونږه حصه شامله شي. دا زمونږ پوره کوشش پکار دے.

## د عطار دعا

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په ټیلي تهون کښې عطیات ورکوونکو د پاره امیرِ اهلِسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه دعا هم کړې ده، هغوئي په دې الفاظو سره دعا فرمائیلې ده چې یا **اللّٰه** پاکه! څوک چې د دعوتِ اسلامي د پاره ۞ 1 یونټ ورکړي ۞ که نیم یونټ ورکړي ۞ که خلورمه حصه یونټ ورکړي ۞ که 15 یونټه ورکړي ۞ که 115 یونټه ورکړي ۞ که 1500 یونټه ورکړي، ټولو ته د هغوئي د اخلاص مطابق اجرِ عظیم نصیب

کړې، صرف خپل محتاجه یــې ساتې، د غیر د محتاجۍ نه یــې اوساتې.

آمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د علمائے کرامو خِدمت کوئ

حضرت عبد الله بن مبارک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ (کوم چې د اِمام اعظم ابو حنیفه رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پۀ خاص شاګردانو او د فقه حنفي پۀ آئمه کرامو کښې دےهغوي) به د عِلم والؤ سره په خاص توګه نیکي کوله، هغوئي ته عرض وکړے شو: تاسو د ټولو سره داسې معامله ولې نۀ کوئ؟ اوئې فرمائیل: زۀ د انبیائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام (او د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم) نه پس د عالمانو نه علاوه د چا مرتبه اوچته نۀ ګڼم، که د یو عالِم پام هم د خپلو حاجتونو پۀ وجه بدل شي نو هغه به پۀ صحیح طریقه د دِین خدمت اونکړے شي او د دِین تعلیم ته به هغه صحیح توجه ورنکړے شي. ځکه دوئي د عِلمي خدمت د پاره فارغ ساتل افضل دي. (1)

## د اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ښۀ اوښ

حضرت اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مدینے منورې سره نزدې پۀ یو کِلي کښې اوسیدو. د ژوند تیرولو د پاره د هغوئي سره یو څو اوښان او یو کمزورے شان شپونکے (چیلۍ څرؤنکے) وو. یو ځل د بنو سُلیم خاندان یو صاحب د هغوئي پۀ خِدمت کښې عرض وکړو: حضور! که تاسو اِجازت راکړئ نو زۀ به ستاسو پۀ صحبت کښې پاتې کیږم او ستاسو نه به فیض هم حاصلووم او ستاسو د شپونکي مدد به هم کووم. اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائیل: که تۀ زما سره اوسیدل غواړې نو ته به زما تابعداري کوې . عرض یــې وکړو: حضور! پۀ کومه خبره کښې تابعداري؟ اِرشاد یــې وفرمائیلو: **کله چې زۀ پۀ خپل مال کښې د څۀ څیز د الله پاک پۀ لاره کښې د ورکولو ووایم نو د ټولو نه بهترین څیز به ورکوې.** هغۀ دا شرط منظور کړو او د هغوئي پۀ خِدمت کښې یــې اوسیدل شروع کړل. یوه ورځ

1...مکاشفة القلوب، باب فی فضل الصلاة و الزکاة، صفحه:417۔

چا اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته عرض وکړو: دلته د وَلې پهٔ غاړه څهٔ غریبان خلق اوسیږي که کیدے شي نو تاسو د هغوئي څه مدد وکړئ. هغوئي د بنو سُلیم قبیلې ځغه ګس کوم چې د هغوئي خِدمت کولو راوغوښتو او اوئې فرمائیل: **یو اوښ راوله.** هغه د اوښانو ځائے ته لاړو او د ټولو نه ښهٔ اوښ یې خوښ کړو خو بیا یې سوچ وکړو چې دا اوښ د اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د سورلۍ د پاره هم پکار دے او فرمانبردار هم دے. مقصد خو صرف غوښه تقسیمول دي ځکه یې د ده پهٔ بدله کښې د ده نه د ښکته درجې والا یوه ښه اوښه پیش کړه. اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې کله اوښه ولیدله نو ځغه صاحب ته یې وفرمائیل چې **تا خیانت وکړو**. هغه فوراً پوهه شو او ځغه اوښ کوم چې د ټولو نه بهترین وو، د ذبح کولو د پاره یې پیش کړو. اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغه ته اِرشاد وفرمائیلو: د وَلې پهٔ غاړه چې څومره کورنۍ ابادې دي ټول وشمیره او زما کور هم پهٔ هغې کښې شامل کړه، بیا اوښ ذبح کړه او غوښه یې پهٔ ټولو کورونو کښې یو شان تقسیم کړه او زما کور ته چې د نورو کورونو پهٔ مقابله کښې یو پوټے هم زیات لاړ نشي د دې خیال ساته.

کله چې د اوښ غوښه تقسیم کړے شوه نو اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ځغه ګس راوغوښتو او پوښتنه یې ترینه وکړه: ستا او زما ترمینځه چې د **اللّٰہ** پاک پهٔ لاره کښې د ښهٔ مال لګولو کوم شرط مقرر کړے شوے وو، آیا تا هغه هیر کړے وو؟ هغهٔ عرض وکړو: حضور! زما نه نهٔ وو هیر شوي بلکې ما ته یاد وو او ما د دې نه **مخکښې** هم دا ښهٔ اوښ خوښ کړے وو خو بیا مې سوچ وکړو چې دا ستاسو سورلۍ ده او ډیر پکار راتلونکے هم دے ځکه صرف ستاسو د ضرورت له وجهې مې دا پریښودے وو. اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغوئي ته وفرمائیل: آیا واقعي تا صرف زما د ضرورت له وجهې ځغه اوښ پریښودے وو؟ عرض یې وکړو: آؤ جي! واقعي چې ستاسو د ضرورت له وجهې مې ځغه اوښ پریښودے وو، د دې نه علاوه مې بَل هیڅ مقصد نهٔ وو. اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اِرشاد وفرمائیلو: آیا زهٔ تا ته د خپل ضرورت ورځ نهٔ ښایم؟ واوره! زما د ضرورت او د

حاجت خو هُغه ورځ ده پۀ کومه ورځ باندې چې زۀ د قبر پۀ کنده کښې يواځې دفن کړے شم، باقي پاتې شو مال، نو د دې درې حصه دار دي: **(1): تقدير**: کوم چې د مال پۀ وړلو کښې د چا څۀ لحاظ نۀ کوي **(2): وارث**: کوم چې ستا د مرګ انتظار کوي چې کله به تۀ مړ کيږې او هغه ستا مال قبضه کړي **(3): دريم حصه دار تۀ پخپله يې** (کله چې تقدير او وارث د مال اخستو پۀ معامله کښې هيڅ رعايت نۀ کوي نو تۀ د خپلې حصې پۀ اخستو کښې ولې ورستو پاتې کيږې؟ څومره چې درنه کيدے د شۀ نه شۀ مال د **اللّٰه** پاک پۀ لاره کښې ورکړه چې د خپل اخرت د پاره يې جمع کړې.) پۀ دې فرمائيلو اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د څلورمې سيپارې وړومبے آيت مبارک تلاوت کړو:

| | |
|---|---|
| لَنۡ تَنَالُوا الۡبِرَّ حَتّٰى تُنۡفِقُوۡا مِمَّا تُحِبُّوۡنَ ؕ۟ (پاره:4، سورۂ آلِ عمران:92) | **ترجمۂ کنزُالعِرفان:** تاسو به هيڅ کله نيکي اونه مومئ تر څو پورې چې د اللّٰه پۀ لاره کښې خپل خوښ څيز خرچ نۀ کړئ. |

او اوئې فرمائيل چې هم دا وجه ده چې کوم مال زما د ټولو نه زيات خوښ وي هغه د **اللّٰه** پاک پۀ لار کښې خرچ کووم او د خپل اخرت د پاره يې ذخيره کووم. [1]

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ څومره زبردست مَدَني سوچ وو چې کوم مال به يې د ټولو نه زيات خوښ وو هغه به يې د **اللّٰه** پاک پۀ لاره کښې خرچ کولو او د خپل اخرت د پاره به يې ذخيره کولو. اے کاش چې زمونږه سترګې وغړيږې او مونږ هم پۀ دې آيت مبارک:

| | |
|---|---|
| لَنۡ تَنَالُوا الۡبِرَّ حَتّٰى تُنۡفِقُوۡا مِمَّا تُحِبُّوۡنَ ؕ۟ (پاره:4، سورۂ آلِ عمران:92) | **ترجمۂ کنزُالعِرفان:** تاسو به هيڅ کله نيکي اونه مومئ تر څو پورې چې د اللّٰه پۀ لاره کښې خپل خوښ څيز خرچ نۀ کړئ. |

---

1...تاريخ دمشق، جلد: 66، صفحه:205 ملتقطاً۔

باندې غور کوونکي جوړ شو. ياد ساتئ چې د **اللّٰه** پاک پۀ لاره کښې چې څنګه څيز ورکوئ هم هغه شان اَجر به بيامومئ چې دُنيا د اخرت کښت [يعنې پټے] دے چې څۀ کرې هغه به رِيبې. (1)

## وړومبے نصيحت

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پۀ خپل خدمت کښې اوسيدونکي کَس ته درې خبرې اِرشاد کړې: (1): پۀ کومو کښې چې وړومبۍ خبره دا وه چې **تقدير پۀ مال وړو کښې د چا لحاظ نۀ کوي.**

واقعي چې هم داسې ده تقدير چې کله هم وغواړي نو ډير پۀ فراخه زړۀ د چا مال اخلي او هم داسې پۀ لږ ساعت کښې د خلقو د کروړونو بلکې د اربونو روپو **کارخانې** وسوزي اِيره شي. تقدير نۀ د مالداره او غريب لحاظ ساتي او نۀ موقعې او ځائے ته ګوري هغه خپله پوره حصه اخلي. تقدير چې کله غالب شي نو خوشحاله خنديدونکے ځوانان پۀ لږ ساعت کښې د مرګ ښکار شي.

## دويم نصيحت

اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پۀ خپل خِدمت کښې اوسيدونکي ته دويمه خبره دا اِرشاد کړه چې **ستا د مال دويم حصه دار وارث دے کوم چې ستا د مرګ انتظار کوي چې کله به تۀ مړ کيږې او ستا مال به قبضه کوي.**

واقعي ده چې دا ليدلے کيږي چې وارثان د دې خبرې اِنتظار کوي چې څنګه بوډا مور او پلار وفات شي، مونږ به د دوئي مال او اسباب قبضه کړو. بنده پۀ ټول ژوند کښې مال جمع کوي خو هغه ته پته نۀ وي چې د هغۀ د وفات نه پس به وارثان د هغۀ د مال سره څۀ سلوک کوي؟ بعضې وخت خو وارثان د مړي پۀ مال ناجائزه کاروبار هم شروع کوي.

1...فيض القدير، جلد:3، صفحه 728، زيرِ حديث:4273 ملخصاً۔

## دريم نصيحت

اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ خپل خِدمت کښې اوسيدونکي ته دريمه خبره دا اِرشاد کړه چې **ستا د مال دريم حصه دار تهٔ پخپله يې.** (يعنې کله چې تقدير او وارث د مال اخستو پهٔ معامله کښې هيڅ رعايت نهٔ کوي نو تهٔ د خپلې حصې پهٔ اخستو کښې ولې شاته کيږې؟ ځومره چې درنه کيدے د ښهٔ نه ښهٔ مال د **اللّٰه** پاک پهٔ لاره کښې ورکړه چې د خپل اخرت د پاره يې جمع کړې.)

## د دِين مالي خِدمت ضرور کوئ!

پهٔ دويمه سيپارهِ سُورَۀ بَقَرَه، آيت: 245 کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| مَنۡ ذَا الَّذِیۡ یُقۡرِضُ اللّٰہَ قَرۡضًا حَسَنًا فَیُضٰعِفَہٗ لَہٗۤ اَضۡعَافًا کَثِیۡرَۃً ؕ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: څوک شته چې الله له ښهٔ قرض ورکړي نو الله به د هغهٔ د پاره هٔغه قرض پهٔ ډير چنده زيات کړي. |

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلې خبره ده! مال راکړے چا دے؟ **اللّٰه** پاک. سرکارِ غوثِ اعظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: اَنۡتُمۡ وُکَلَاءُ عَلٰی ھٰذِہِ الۡاَمۡوَال **تهٔ د دې مال وکيل يې.** [1]

د مثال پهٔ طور مونږ چا له 200 روپۍ ورکړو او ورته ووايو چې د بازار نه فلانکے څيز راوړه! نو هٔغه کَس کوم له چې مونږ پيسې ورکړې، دا د 200 روپو مالک نهٔ دے، وکيل دے، هٔغه څيز راوړے شي کوم چې ورته مونږ ياد کړے وي، دغه شان مونږ ټول پهٔ دې دُنيا کښې د مال او دولت مالکان نهٔ يو بلکې وکيلان يو، اصلي مالک **اللّٰه** پاک دے، د وکيل نه چې څهٔ واپس اخستے کيږي هغه قرضه نهٔ وي، هغه خو د مالک څيز وي کوم چې هغه ته واپس کولے شي خو د **اللّٰه** پاک کرم، د هغه رحمت او عطا ته وګورئ چې اِرشاد دے:

1...جَلَاءُ الخَوَاطِرْ، مجلس: حقوق الفقراء، صفحه: 110۔

مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: څوک شته چې الله له ښهٔ قرض ورکړي.

علمائے کرام فرمائي: پۀ دې ځائے کښې د **الله** پاک پۀ لاره کښې پۀ اِخلاص سره مال لګولو ته قرض فرمائيلے شوے دے، پۀ دې سره دا خبره پۀ زړۀ کښې کښينول مقصد دے لکه چې څنګه قرض ورکوونکے مطمئين وي چې د هغۀ مال نۀ ضائع کيږي او هغه د هغې د واپس اخستو حق لري، هم داسې د **الله** پاک پۀ لاره کښې خرچ کوونکو ته مطمئين اوسيدل پکار دي چې هغوئي به د دې خرچ کولو بدله يقيناً بياموي او هغه هم معمولي نۀ بلکې [(1)]

فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗۤ اَضْعَافًا كَثِیْرَةً | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو الله به د هغۀ د پاره هغه قرض پۀ ډير چنده زيات کړي.

## د يو پۀ بدله کښې 20 لاکهه

حضرت عثمان نَهدي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه تابعي بزرګ دے، هغوئي ته چا ووئيل چې حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ فرمائي: مؤمِن بنده ته به د يوې نيکۍ پۀ بدله کښې 10 لاکهه نيکۍ ميلاؤيږي. (يعني که يوه روپۍ د **الله** پاک پۀ لاره کښې صدقه کړے شي نو پۀ ثواب کښې به دا 10 لاکهه چنده وي). حضرت عثمان نَهدي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه مدينے منورې ته حاضر شو او د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه يې پوښتنه وکړه: آيا تاسو دا اِرشاد فرمائيلے دے؟ حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ وفرمائيل: ما دا نۀ دي وئيلي، ما خو وئيلي وو چې **الله** پاک مؤمِن بنده ته د يوې نيکۍ پۀ بدله کښې 20 لاکهه چنده عطا کوي. [(2)]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! د **الله** پاک خومره کرم دے، مال هم د هغۀ دے، راکړے هم هغۀ دے، که مونږ يې د هغۀ پۀ لار کښې خرچ کړو نو مال هم محفوظ او ثواب هم داسې چې شميرلے

1...صراط الجنان، پارہ:2، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:245، جلد:1، صفحہ:367۔

2...رُوْحُ الْمَعَانِیْ، پارہ:2، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:245، جز:2، جلد:1، صفحہ:757 ملتقطاً۔

کيدے او حسابيدے نشي.

د دې حديثِ پاک پۀ شرح کښې د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: يعني روزانه د فرښتو پۀ خُله د سخي پۀ حق کښې او د کنجوس خلاف دعاګانې کيږي کومې چې يقيناً قبولې دي. (1)

## د صدقې ورکولو فضيلتونه او ثوابونه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ له د دِين مالي خدمت کول پکار دي ❀ صدقه او خيرات کول زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عظيم سُنّت دے، د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د درِ جُود او سخاوت نه به يو غوښتلو والا هم خالي لاسونه نۀ تللو (2) ❀ صدقه ګناهونه داسې ختموي لکه څنګه چې اوبۀ وور مړ کوي (3) ❀ صدقه د دوزخ د وور نه بچ کول کوي، پۀ حديثِ پاک کښې دي څوک چې د اللّٰه پاک د رضا پۀ خاطِر صدقه ورکړي نو هغه صدقه د هغۀ او د وور ترمينځه پرده جوړيږي (4) ❀ صدقه د اللّٰه پاک غضب ختموي او بد مرګ دفع (يعني لرې) کوي (5) ❀ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: پۀ صدقه ورکولو کښې تادي کوئ چې بلا د صدقې نه نۀ اوړي (6) ❀ صدقه کوونکے به د قيامت پۀ ورځ د خپلې صدقې پۀ سورې کښې وي (7) ❀ صدقه د بدی 70 دروازې بندوي (8) ❀ صدقه

---

1...مرآۃالمناجیح، جلد:3، صفحہ:69 بتصرف۔

2...فیضانِ سخی سرور، صفحہ:6۔

3...ابنِ ماجہ، کتاب الفتن، باب کف اللسان فی الفتنہ، صفحہ:649، حدیث:3973۔

4...معجمِ کبیر، جلد:10، صفحہ:409، حدیث:20584۔

5...ترمذی، کتاب الزکاۃ، باب ما جاء فی فضل الصدقہ، صفحہ:189، حدیث:664۔

6...مشکاۃالمصابیح، کتاب الزکاۃ، باب الانفاق وکراھیہ...الخ، جز:1، جلد:1، صفحہ:359، حدیث:1887۔

7...سننِ کبری للبیھقی، کتاب الزکاۃ، باب التحریض علی...الخ، جلد:4، صفحہ:379، حدیث:7751۔

8...معجمِ کبیر، جلد:3، صفحہ:148، حدیث:4276۔

د قبر د ګرمۍ نه بچ کول کوي (1) ❁ د مسلمان صدقه د هغهٔ عمر زیاتوي (2) ❁ **اللّٰه** پاک د صدقې پۀ برکت تکبر او فخر لرې کوي (3) ❁ صدقه 70 قِسمه بلاګانې منع کوي پۀ کومو کښې چې د ټولو نه کمه بلا بدن ورانیدل او سپین داغونه دي. (4)

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

## پۀ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: هفته واره اجتماع

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نیکو کولو او د نیکو د جذبې موندلو، ځان د ګناهونو نه د بچ کولو ذِهن موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د دیني تنظیم دعوتِ اسلامي د دیني ماحول سره تړون ساتئ. پۀ 12 دیني کارونو کښې هم ښه پوره برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِیْم! د دې به مو ښۀ ډیر برکتونه نصیب کیږي. پۀ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: هفته واره اجتماع هم ده.

تاسو ته خواست دے چې تاسو هم پۀ دې هفته واره اجتماع کښې پۀ پابندۍ سره شرکت کوئ! ❁ پۀ دیني اجتماع کښې د کښیناستو او د ذِکر کوونکو خو به خپل ځومره ښکلے شان وي! د حدیثِ پاک مطابق څوک چې د دوئي پۀ خوا کښې کښیني، هغه هم بدبخته نه پاتې کیږي (5)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! پۀ هفته واره اجتماع کښې ذِکر کیږي ❁ عِلم دِین زده کیږي ❁ پۀ نیک صحبت کښې کښیناستل او ❁ پۀ جومات کښې وخت تیرول نصیب کیږي ❁ یو اهم برکت دا چې د دیني اجتماع د پاره تلل هم د **اللّٰه** پاک پۀ لاره کښې وَتل دي، چې هفته واره

1...شُعَبُ الْاِیمان، جلد:3، صفحه:212، حدیث:3347۔

2...معجمِ کبیر، جلد:6، صفحه:440، حدیث:13508۔

3...معجمِ کبیر، جلد:6، صفحه:440، حدیث:13508۔

4...تاریخِ بغداد، جلد:8، صفحه:204۔

5...مسلم، کتاب الذکر و الدّعا...الخ، باب فضل مجالس الذکر، صفحه:1037، حدیث:2689۔

اجتماع ته تشريف راوړئ نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! د کور نه د وتلو نه واخله تر واپس تللو پورې به تول وخت د اللّٰه پاک پهٔ لار کښې شميرلے کيږي. د هر زيارت پهٔ ورځ پهٔ پابندۍ سره پهٔ هفته واره اجتماع کښې د اَوَّل نه تر اخره پورې د شرکت کولو نيت وکړئ! راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو:

## پهٔ اِجتماع کښې د شرکت کولو خوند

د يو اِسلامي ورور د خط خلاصه ده چې زما تعلق د بد مذهبې کورنۍ سره وو. د دعوتِ اِسلامي سره د تړون سعادت مې څهٔ داسې نصيب شو چې يو ځل د دعوتِ اِسلامي والا د يو عاشقِ رسول اِسلامي ورور سره مې ملاقات وشو. هغهٔ ما ته پهٔ هفته واره د سُنَّتو اِجتماع کښې د شرکت کولو دعوت راکړو کوم چې ما پهٔ نهٔ زړهٔ قبول کړو. چې کله ما پهٔ اِجتماع کښې شرکت وکړو نو هلته د سوز نه ډکو او ژړيدونکو دعاګانو زما پهٔ زړهٔ کښې انقلاب راوستو، د کومې پهٔ وجه چې زما د زړهٔ سکون نصيب شو. بس بيا خو پهٔ اجتماع کښې شرکت کول زما معمول جوړ شو. کور والؤ ته مې چې معلومه شوه نو هغوئي زما پهٔ لاره کښې خنډان [يعني رکاوټونه] جوړول شروع کړل. د اللّٰه پاک پهٔ راعطا کړے شوي توفيق به زهٔ پهٔ څهٔ نا څهٔ طريقه اجتماع ته تلم. بيا زما د نيکو کولو جذبه ورځ پهٔ ورځ زياتيدله. زما پهٔ اخلاقو کښې بهتري شروع شوه، کور والؤ چې کله زما پهٔ اخلاقو او کردار کښې پيدا شوے بدلون وليدو نو پهٔ ورو ورو هغوئي هم نرمي شروع کړه. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د اجتماع پهٔ برکت سره د ښو عقيدو د اختيارولو، پهٔ سر باندې د عمامې تاج پهٔ سر کولو او د سُنَّت مطابق د ګيرې پريښودو سعادت مې نصيب شو.

| | |
|---|---|
| تِرا شکر مولا دیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول |
| سلامت رہے یاخدا دینی ماحول | بچے بد نظر سے سدا دینی ماحول |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب!　　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## المَدینه آن لائن لائبریري

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي **I.T** ډیپارټمنټ ورځ په ورځ مونږ ته د علمِ دین زده کولو آساني ذریعې فراهم کولو کښې مصروف دے. په سلګونو کتابونو او رسالو باندې مشتمله **المَدینه آن لائن لائبریري** کومه چې مخکښې صرف په ډیسک ټاپ ورژن ***(Desktop version)*** کښې وه، اوس په ویب ورژن ***(Web version)*** کښې لائیو ***(Live)*** کړے شوې ده. په **المَدینه آن لائن لائبریري** کښې د مکتبة المَدینه په مختلفو موضوعاتو (مثلاً قرآن او سنت، عقائدِ اسلام، فقه او فتاوٰی، اسلامي تعلیمات، اخلاق او آداب، سیرتِ رسولِ عربي، سیرتِ امهات المؤمنین، سیرتِ صحابه او صحابیات، سیرتِ اولیائے کرام، سیرتِ امیرِ اهلِسنت، ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت او فیضانِ مدني مذاکره، اَوراد او وظائف او نعتیه کلامونه وغیره) باندې مشتمل کتابونه او رسالې موجودې دي. د **المَدینه آن لائن لائبریری**نه فائده پورته کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ویب سائټ ***www.dawateislami.net/bookslibrary***

## یو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پۀ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه پۀ **مَدَني چینل** باندې **لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې خالي پۀ ورځ به هم مَدَني چینل باندې ماسخوتن اتنیمې [8:30] بجې اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پۀ کومه کښې چې به شیخ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي. ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له هم دعوت ورکړئ ❁ **هفته واره رساله مطالعه** هم پۀ 12 دِیني کارونو کښې یو دِیني کار دے. هره هفته پۀ مدني مذاکره کښې د یوې دِیني رسالې د لوستلو اعلان کولے شي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د **(نور العرفان (قسط: 7)** رسالې

اعلان کولے شي. دا رساله ضرور هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **اللّٰه** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ✿ د غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پهٔ سيرت او د ژوند پهٔ حالاتو مبارکو باندې مشتمل د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د بيانونو ښکلې مجموعه **شانِ غوثِ اعظم** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مکتبة المَدينه ته راغلې ده، دا مجموعه د مکتبة المَدينه د هرې څانګې نه پهٔ **160 روپۍ** پهٔ بيعه واخلئ، ضرور يې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِيۡ فَقَدۡ اَحَبَّنِيۡ وَمَنۡ اَحَبَّنِيۡ کَانَ مَعِيَ فِي الۡجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي. [1]

سينہ تيری سُنّت کا مدينہ بنے آقا! | جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## حِلم (د برداشت قوت) سُنَّتِ مصطفےٰ صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے

**د رسول اللّٰه صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک دي: (1):** حلم والا پهٔ دُنيا کښې هم سردار دے، پهٔ اخرت کښې هم سردار دے. [2] **(2):** د حِلم پهٔ ذريعه بنده پهٔ ورځ کښې د روژه نيونکي او د شپې د قيام (يعنې عبادت) کوونکي درجه بياموي. [3]

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...جامع صغير، صفحه:233، حديث:3831۔

3...مَجۡمَعُ الزَّوَائِد، کتابُ الۡاَدب، باب حُسۡنِ اَخۡلَاق کے بيان ميں، جلد:8، صفحه:19، حديث:12687۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! حِلم سُنَّتِ مصطفےٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے. ❁ زمونږ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم بے ځايه غصه نۀ ده کړې. ❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خپل ذات پۀ باره کښې د چا نه هم انتقام نۀ اخستو. ❁ پۀ مخکښينو اسماني کتابونو کښې د هغوئي دا صفت هم بيان شوے: د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره چې څومره هم د جهالت والا سلوک وکړے شي، هُم هٰغه همره به د هغوئي حِلم زياتيږي. (1)

د حِلم پۀ باره کښې مَدَني ګلونه: ❁ حِلم د الله پاک صفت دے. ❁ حِلم د الله پاک خوښ صفت دے ❁ حِلم د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت دے ❁ د حِلم معنیٰ ده: قلار والے، بُرد باري (نرم مزاجي).

اِمام غزالي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: صبر (يعني بردباري) د غصې ځنبلو نه افضل دے ولې چې د غصې ځنبلو ضرورت هغه چا ته وي، د چا غصه چې سخته شي،او د حِلم والا پۀ غصه کښې هډو جوش نۀ راځي. (2) ❁ د حِلم سره بزرګي ميلاؤيږي.

د حليم جوړيدو طريقې: ❁ حِلم د تڪلف سره راځي (يعني بنده چې پۀ کوشش سره، پۀ تڪلف کولو غصه ځنبي نو پۀ ورو ورو به يې پۀ طبيعت کښې حِلم پيدا شي) ❁ د عمامې پۀ سر کولو سره حِلم زياتيږي ❁ د چيلو پۀ څرولو هم پۀ طبيعت کښې حِلم پيدا کيږي.

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

---

1...صراط الجنان، پارہ:4، سورۂ آل عمران، زیرِ آیت:159، جلد:2، صفحہ:81۔
2...اِحیاء العلوم مترجم، جلد:3، صفحہ:535۔

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل كولو توفيق راعطا كړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!　　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامى هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځئ شپه كښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډكو لاسونو باندې كوزوي.(1) راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصاً

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

---

1 ... القول البديع، الباب الثانی، ص٢٧٧

2 ... افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3 ... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، کتاب الذکر و الدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠
2... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ٢٥٤/١٠، حديث:١٧٣٠٥
3... تاريخ ابنِ عساکر، ١٥٥/١٩، حديث:۴۴١٥